AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

آصف بهاند ۲۰۱۸/۱۰/۰۴

# ټاکنې او د کابل اندامونه

## «... کابل يو بڼ و<br>چې نه سوړ و، نه تود<br>د بلبلانو د ژوندون له پاره...»

## خو اوس...

## د کابل پر زړه ټپونه او پر ما د وير بارونه



يو فرهنګي يار راته وويل چې په دې ورځو کې په افغانستان کې د ټاکنو دِمامي ګرمي دي او ته غلی يې، نه دې په فيسبوک پاڼه کې څه وليکل او نه دې په خپلو ليکنو کې د ټاکنو په باب نظر څرګند کړ؛ چې دا ولې؟

ما په نرمه ورته وويل چې زه همدا اوس د يوويشتمي پيړى په ۲۰۱۸ کال کې ژوند کوم او د يو متمدن انسان په توګه پر ديموکرسی، بيان آزادي او ټاکنو باندې باوري او ورته ژمن يم، خو په ياد ولره چې دا درې شيان (ديموکرسي، بيان آزادي او ټاکنې) چې ما ياد کړل؛ دا زه په افغانستان کې نه غواړم او نه هلته د تطبيق وړ دي. دليل يې هم دا دی چې ډيره سلنه عام خلک له يوې خوا د دې نومونو (ديموکرسي، بيان آزادي او ټاکنې) پر ماناوو نه پوهيږي او له بله پلوه فاسدين او ټوپکوال له همدې مسايلو په استفادې سره، نور هم د خپل ناولي ژوند د اوږدولو هڅه کوي او نور هم د خلکو پر اوږو باندې د خپلو سپريدو موده غځوي. حلالري يې هم د جګړې درول، د بېسوادی له منځه وړل او د نوي نسل په نوي او عصري بنه روزل دي. اوس د عامو خلکو په دې لوړه کچه بېسوادي او ناپوهي حالت کې، «ديموکرسي، بيان آزادي او ټاکنې» غولونکي شعارونه دي؛ د هغه پر ځای ته د جګړې د پای ته رسيدو، د تعليم او سواد د عامېدو مسايل په کار دي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

یار مې دواړه پښې په یوه موزه کې اچولي وې او ویل یې چې ته خو یو څه ووایه، ما هم دا لاندې څو کرښې د خپل زړه د حال په ډول ورته ولیکلې:

په دې ورځو کې زما د زیرېنتون پر بدن، زما د ښار او زما د کابل پر متو، پر اوږو، پر ډډو، پر څنګونو او پر پونډیو باندې بیا د عکسونو په نامه، باروته داسې ډېر شوي دي چې مات اندانونه یې د پورته کولو، د وړلو او د زغملو تـوان نه لري. دا ډېره سلنه د همدې ښار د سوځونکو، د همدې ښار د بچیانو د وژونکو او د همدې ښار د لوټونکو د عکسونو او شعارونو بار دی.

د ښار اندامونه خو لا پرېږدئ، چې د ټولنې داسې یوه سلنه وګړي چې پالنې، پاملرنې او زړه سوي ته اړتیا لري او د همدې ټوپکیانو د ټوپکونو او نا خوالو له لاسه د باخارتوب او لیونتوب تر بریده رسېدلي دي، دا خلک هم له ښاغلو کاندیدانو نه خلاص نه دي او پرته له دې چې هغوی پوه شي، د هغوی له اندامونو نه هم ابزاري استفاده شوې او کیږي، نو دغه حالت او کار ته یوه زړه سواندي او چیز فهمه پوه او قلموال په خپله فیسبوک پاڼه کې له همداسې یو عکس سره دا جمله هم لیکلې ده:





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا عکسونه او دا شعارونه د خلکو او کابل پر زړه باندې د تیرو ټپونو پر سر، تازه ټپونه دي، دا بارونه، دا عکسونه او دا شعارونه د عامو خلکو له پاره، د دې ښار د دیوالونو او لا غرونو له پاره دومره آزارونکي دي چې د کانګو تر پولې یې رسولي دي. او د دې بار د دروندوالي او آزار د تریخوالي د شکایت په خاطر یې دا ډیر کلونه وشول چې په چیغو، چیغو یې خپل ستونی غوړځولی دی، خو دا چیغې به څوک واوري.

زما د ښار حال، زما د کابل حال نور د ویلو نه دی، هر څه یې مات شوي دي. دیوالونه یې مات، برجونه یې ړنګ او ویاړونه ورته پیغورونه شوي دي. داسې حالت ورباندې راغلی دی چې اصیل بچیان او خدمتګاران یې یا نور تر خاورو لاندې دي، یا ورنه مرور او تللي دي او څوک یې چې شته دي، د هغوی په خوله څوک پیاز هم نه سپینوي.

ښار ستونی لري، چیغې وهي، خو د اوریدو له پاره غوږونه، نه شته او که ورباندې حاکم خلک یې کوم غږ یا یوه نیمه چیغه اوري، هغه هم ورپورې خاندي. زما د ښار بچي به څه وواېي چې نور یې تن ناتوانه او غږ یې ټپ شوی دی، د حسرت اوښکې یې پر مخ راروانې او په خواشینۍ سره د یو مرور یار د حسرت دا غږ په آرامه زمزمه کوي:

**«زما د ښار د دیوالونو سیوري مات پراته دي**
**څنګه ستومانه، څنګه سترې څه میرات پراته دي**

**د کوم مذهب دور راغلی، زه خبر نه یمه**
**چې په سجده مې منارونه د جومات پراته دي»**

د توپکیانو د وحشت په پیل کې ما هم کابل ته، د «سترې کابل» ترسرلیک لاندې یو څه لیکلي وو او د تیې کابل حال مې په کې بیان کړی و چې زما په «مروره مځکه» کې چاپ شوی دی. د مرورې مځکې د یو بل شعر، په یوه برخه کې د کابل په باب داسې راغلي وو:

«... د هرې ریږې هر ویښته لاندې نن

سل زر بلا دي پټې

او دا بلا زموږ پر خلکو حکومت کوي نن

کابل،

کابل یو بن و

چې نه سوړ و، نه تود

له کنګل سوړ

له تناره څخه تود

د بلبلانو د ژوندون له پاره

خو اوس هم تود دی هم سوړ

د بلبلانو د مرګون له پاره»

د خپلو وروستیو سفرونو په ترڅ کې مې د کابل ډیرې کوڅې او واټونه ولیدل، د هر فرهنګي یار او دوست پته چې راته مالومه وه، لیدلو ته یې ورغلم. د همدې لیدنو کتنو په لړ کې یوه ورځ د یو مشر او سپینږیري فرهنګي لیدلو ته ورغلم. ډیره ښه بنډار مو سره وکړ، مازدیګر مهال چې د کور په لوري روان وو، ومو لیدل چې د واټونو پر څنډو ولاړې ونې او د بریښنا پایې د توپکیانو د عکسونو تر بار لاندې زګیروي کوي او په لیدلو سره یې خوړلي توکي بیرته د انسان ستونې ته راجګیږي؛ نو مشر فرهنګي راته کړل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«ته خو بيرته روان يي، زموږ هرسهار، ټوله ورځ او هر مازديګر همدا حال دى او دلته يي ان د کليو د اشرارو عکسونه راته ځړولي دي او موږ يي په ليدلو محکوم يو.»

اوس چې بيا پارلمان ته د ننوتلو هلالا ده، دغه لوبه او دغه ناروا او دغه بار بيا سل ځلې رادروند شوى دى، د کابل پر ټپي اندامونو بار او د کابليانو د ارواوو له پاره دروند او زوورنکى ـپيټى دى او ښايي چې د هيواد د نورو ښارونو حال هم همداسې وي.

تجربو په وار، وار ښودلي ده چې دا ځل به بيا هم ډيره سلنه هغه خلک پارلمان ته ننوزي چې د وطن او خلکو په ځاى، د خپل واک او جيب په فکر کې دي.

دا غميزه به همداسې روانه وي، ځکه هغه مشهوره خبره ده چې وايي:

«دا کيسه پاى نه لري، ځکه چې پسونه هوښيارـيږي نه، ليوان مړيـږي نه.»

نه تماميدونکي خواشيني!



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ